د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

لنډيز

څـــېړنې د بنه
افغانســـــتان
لپاره
AREU

EUROPEAN UNION

ډاکتر انتونيو ګيستوزي
زمرى ۱۳۹۲

# په افغانستان کې د کوچي - بزګر ترمينځ د شخړو څېړنه

## ليکلړ

سريزه: د هغو شخړو په اړه دو ديزې نظريې چې کوچيان پکښې ښکيل دی ...... ۱
ځرځايونه او د هزاره ګانو ادعاګانې ...... ۳
د دولت « بې اغيزه » مداخله: د ښستيزو جوړښتونو ځو اړخيزې اغيزې ...... ۴
ښاري او کرنيزه پراختيا ...... ۲
د کوچيانو د ميشتيدلو چټکتيا ...... ۷
د کوچيانو ميشتيدل: د شخړو نوې سرچينه ...... ۸
د کوچيانو په مينځ کې ټولنيز توپيرونه ...... ۹
د شخړو حل ...... ۱۰
پايله ...... ۱۱

## سريزه: د هغو شخړو په اړه دو ديزې نظريې چې کوچيان پکښې ښکيل دی[1]

د ۲۰۱۲ کال د دسمبر په مياشت کې، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU)، د اروپا د اتحاديې له خوا تمويل شوې پروژه پيل کړه. په نوموړې پروژې کې « د طبيعي زيرمو د مديريت (NRM) په اړينو ساحو کې د دري اړخيزو څېړنو هڅې، د خوړو د زون پاليسي، ترځمکې لاندې اوبه، او د شخړو په برخه کې د ښکيلو اړخونو بدليدونکي ليوالتيا چې د ميشتو وګړو او کوچيانو ترمينځ شتون لري،» او په هغه کې د کوچيانو – بزګرانو په اړه د شخړو يوه برخه، شامله ده.

پروژه د درې کلونو په موده کې پرانيستل کيږي او په مختلفو مرحلو کې به تنظيم شي. د پروژې ساحوي کار په ټول افغانستان کې ۱۲ موضوعي مطالعې په بر کې نيسي، چې د هغو له جملې څخه د ۷ ساحوي کارونه په لومړۍ مرحله کې ترسره شوي دي. په دغو هڅو کې په کابل او ولايتونو کې د حکومت له کار کوونکو، د ټولنې له لاربښونکو او د شخړو له ليدونکو سره مرکې هم شاملې دي. اوسنۍ ليکنه د لومړۍ مرحلې د لومړنيو موندنو لنډيز وړاندې کوي ، چې له اوو څېړنو څخه لاس ته راغلي دي. په راتلونکې کار کې به نه يوازې نهه نورې موضوعي مطالعې او د شخړو له ليدونکو سره ټولې مرکې، بلکې د اوو موضوعي څېړنو په موده کې اضافي مرکې هم شاملې دي چې اوسنی لومړنی لنډيز بشپړوي.

د AREU دا پروژه د ۲۰۱۲ کال د دسمبر په مياشت کې پيل شوه او د شخړو په اتو مختلفو ځايونو کې د ټولنې له مشرانو او همدا ډول له بهرنيو ليدونکو او په شخړو کې د ګډونکوونکو سره مرکې پکښې شاملې دي. د مرکو لومړۍ بهير د ۲۰۱۷ کال د اپريل په نيمائي کې بشپړ شو او ددې لنډيز موخه داده چې د نوموړې پروژې لومړنی تشريح تر سره شي.

### د ليکوال په اړه:

ډاکتر انتونيو ګيستوزي، په افغانستان پراخې څېړنې تر سره کړې او خپرې کړې دي. د AREU لپاره د هغه خپرې شوی څېړنې، ديرش کلن کړکيچ (۲۰۱۲)، بشپړتيا او سر غړونه: ۲۰۰۱ را په ديخوا د افغانستان د شمال سياسی اقتصاد (۲۰۱۲)، افغان ملی اردو: دپايښت په وړاندې ننګونې تر مالي ګوانبونو اغيزمنې دي (۲۰۱۴)، د افغانستان د ښوونځيو سياسی کول (۲۰۱۵)، د جوش نقطې ته رسيدل: په افغان ښوونځيو کې ټولنيز فعاليت (۲۰۱۵) او افغان ملی پوځ د ISAFنه وروسته (۲۰۱۲).

[1] په دې ليکنه کې د « Nomad ) کوچي(» اصطلاح د ټولو کوچيانو په مانا ده، په داسې حال کې چې د « Kochi کوچي » اصطلاح يوازې د پښتنو کوچيانو لپاره په کاريږي.




لومړی شکل

په ټوله کې (۴۰) مرکې په اوو ځایونو کې، چیرې چې د کوچیانو او بزګرانو ترمینځ په یو ځای او یا بل ځای کې جګړې شوي دي، ترسره شوي دي (لومړی شکل وګورئ). د کوچیانو او بزګرانو له مساوي شمیر سره مرکې شوي دي. اوه اضافي مرکې په کابل کې له هغو ځانګړو اشخاصو سره تر سره شوي دي چې یا په وزارتونو او یا د کوچیانو په کمیسیون کې په کاربوخت وو او د کوچیانو او بزګرانو د شخړو په اړه ئې مالومات درلودل. په افغانستان کې د کوچیانو او کروندګرو ترمینځ جګړې کومه نوي خبره نه ده، چې پخوا ئې د پوهانو پاملرنه ځان ته را اړولې نه وي. په هرصورت، په پخوانیو ځیړنو کې د هزاره ګانو او پښتنو کوچیانو ترمینځ شخړې د پاملرنې مرکز ګڼل کیدلې. دا هغه شخړې دي چې د رسنیو ډیر پام (په حقیقت کې ټول پام) ئې ځان ته را اړولی وو. ددغې پاملرنې او د دوو ټولنو ترمینځ د سیاسي او ټبریزو (قومي) شخړو د پخواني تاریخ له کبله، چې په مختلفو مرحلو کې د دولت او یا سیاسي ډلو له خوا هڅول کیده، د هزاره ګانو/ کوچیانو شخړو دا موضوع ستونزمنه کړې وه، چې د جګړو ټولنیزې، کرنیزې، اقتصادي او ډموګرافیکي سرچینې سره جلا شي. د هزاره ګانو/ کوچیانو اختلاف ددې لپاره په دې ځیړنه کې شامل شوي ده چې د کوچیانو – میشتو وګړو د پراخ اختلاف د یوې مهمې برخې استازیتوب کوي. همدا ډول د کوچیانو او نورو ټولنو ترمینځ د اختلاف څو نورې موضوعي ځیړنې هم په ځیړنه کې شاملې دي:

| | |
|---|---|
| مالستان (غزنی) | هزاره ګان د کوچیانو په مقابل کې |
| بهسود (وردک) | هزاره ګان د کوچیانو په مقابل کې |
| ازره (لوګر) | پښتانه د کوچیانو په مقابل کې |
| درای (د متون ولسوالۍ، خوست) | پښتانه د کوچیانو په وړاندې |
| ده سبز (کابل) | تا جیکان د کوچیانو په وړاندې |
| بګرام (پروان) | تاجیکان د کوچیانو په وړاندې |
| خاک جبار (کابل) | تاجیکان او پښتانه د کوچیانو په وړاندې |
| امام صاحب (کندز) | اوزبیک کوچیان د پښتنو کروندګرو په وړاندی |

د موضوعي ځیړنو دا سلسله په افغانستان کې د کوچیانو/ میشتو وګړو ترمینځ د ټولو اختلافونو څرګندوئي نه کوي. د بیلګې په توګه، د پشه یانو او پښتنو ترمینځ د شخړو او اختلافونو ریپوټونه شتون لری[۲]. په هرصورت، په ټولیزه توګه، نوموړې اته موضوعي ځیړنې د کوچیانو/ میشتو کسانو تر مینځ د اختلافونو (شخړو) د لوي اکثریت استازیتوب کوي، ځکه چې دا شخړې د افغانستان په ډیرو سیمو کې چیرې چې کوچیان کډه کوي، هلته شتون لري.

۲ د کوچیانو د شورا له یوه غړي سره مرکه، د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت

## ځرځایونه او د هزاره ګانو ادعاګانې

په افغانستان کې د کوچیانو – بزګرانو د شخړو د څیړنو ترټولو ښه سرچینه دهندوکش په غرونو کې ځرځایونو ته د کوچیانو لاس رسی ده چې هزاره بزګران پکښې میشت دي. نوموړې شخړې ژوره تاریخي سرچینه لري چې د نوي افغانستان دولت لخوا د نولسمې پیړۍ په پای کې د هزاره ګانو د ایل کولو لپاره ئې له کوچیانو څخه ګټه پورته کړه. [3] د نوې څیړنې لومړنې موندنې چې دې پروژې ترسره کړې دي، څرګندوي چې په نوموړو شخړو کې ډیر لږ بدلون را مینځ ته شوی دی. ډیرو مرکه شوو په دې خبره ټینګارکاوه چې د کوچیانو او بزګرانو ترمینځ د شخړو سرچینه سیاسی ده: سیاسي ګوندونو او ډلو له خپلو مؤکلینو څخه ملاتړ کاوه او ان تردې چې هغوی یې هڅول چې ځمکې او ځمکې ته د لاس موندنې په اړه نورو ټولنو ته ستونزې را مینځ ته کړي. د (د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت) یوکارکوونکې وایي:

> دا اختلاف د ځرځایونو د ستونزې پرځای سیاسي بڼه لري. دا ستونزه به له ځرځایونو څخه د ګټې اخیستنې په اړه د ځمکې د قانون پربنسټ حل نه شي. هغه کمیسیون چې د دغو اختلافونو د حل لپاره جوړشوی ده حتی یوځل موږ ته راغلی نه ده او د ځرځایونو د قانون په اړه ئې له موږ څخه پوښتنه هم کړي نه ده. دا یوه سیاسي ستونزه ده، ډیر لوړ پوړي چارواکي او حتی بهرني هیوادونه په نوموړي شخړه کې لاسوهنه کوي. [4]

په کابل کې د دولت مامورین او نور مرکه شوي وګړي په بیړې سره خپله پاملرنه د هزاره ګانو – کوچیانو په شخړې پورې تړې، او دا تور لګوي چې ګواکي هزاره ګان، د غځ اخیستنې په تمه (هیله)، په ده میرداد، حصه اول او نوروځایونو کې مرکزی لوړو سیمو ته د کوچیانو د خوځښت (تګ) لارې تړلې دي. له شک څخه پرته، ترهغه ځایه چې چارواکي د ۱۹۷۱ کال په قانون تکیه کوي، د هزاره ګانو ټولنې، له ډیرو ځرځایونو څخه د کوچیانو له ګټې اخیستنې څخه په مرکزي افغانستان کې د لارو د بندولو (تړلو) په ذریعه، مخنیوی کوي.

> ترهغه ځایه چې زه پوهیږم، کوچیان د افغانستان په مرکزي ولایتونو کې له ځرځایونه څخه ګټه نه پورته کوي ځکه چې وسله والو هزاره ګانو مرکزي ولایاتو لکه بامیان، دایکندي او غور ته د ننوتلو لارې تړلې دي. د وردګ ولایت په دایمیرداد او حصه اول ولسوالیو کې ټول هزاره ګان سره را ټول شوي دي تر څو هزاره ولایتونو ته د تګ عمده دروازې (لارې) وتړي، او کوچیانوته اجازه ورنه کړي چې وړاندې وخوځیږي. له همدې کبله هرکال د دایمیرداد او حصه اول په ولسوالیو کې جګړې صورت مومي. [5]

۳ س. ا. موسوي، د افغانستان هزاره ګان، لندن: ۱۹۹۸ ؛ حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیک تاریخ ۱۸۲۳- ۱۹۰۱، لیدن: بریل، ۲۰۱۲.
۴ د کرنې وزارت د ځرځایونو د څانګې له کارکوونکي غړي سره مرکه. د ۲۰۱۷ کال د جنوری ۲مه
5 د کرنې د وزارت د ځرځایونو د څانګې له کارکوونکي غړي سره مرکه.

د هزاره جات په دروازو کې د خوځښت د لارو بندول د نیوکوکوونکو له خوا د سیاسي لاسوهنو شواهد ګڼل کیږي، خو محلي بزګران څرګندوي چې دا هغه سیمې دي چې په ځرځایونو ئې لوړ فشار شتون لري. [6]

> په ۱۳۸۸ (۲۰۰۹/ ۲۰۱۰) کال د کرزي په دوره کې کوچیانو د لومړي ځل لپاره هڅه وکړه چې د افغانستان مرکزي ولایتونو ته له خپلو زرهاوو څارویو سره داخل شي. دا خبره د موږ لپاره ډیره لویه ستونزه وه ځکه د هغوي په زرګونو (زرهاوو) څاروي زموږ له کرنیزو ځمکو څخه تیریدل. جګړې د کجاب د سیمي په دان بارک کې چې د بهسود د ولسوالی په حصه اول پورې اړه لري، پیل شوې. کله چې کوچیان له خپلو زرهاوو څارویو سره د دان بارک د کلي له کرنیزو ځمکو څخه تیریدل او غوښتل ئې چې خپل سفرته د بامیانو ترولایت پورې دوام ورکړي، د یوه بزګر له خوا چې نه ئې غوښتل د هغه له ځمکو څخه تیرشي، د هغو مخنیوی وشو، نو هغوي په نوموړي باندې ډزې وکړې او هغه ئې وواژه. په دې توګه د هزاره ګانو او کوچیانو ترمینځ جګړه پیل شوه [...] ځکه چې د وردګو ولایت د کوچیانو لپاره د بامیانو او غور ولایتونو ته د ننوتلو دروازه ګڼل کیږي، خو هغوي له خپلو زرهاوو څارویو سره د موږ د ځمکو له لارې تیریږي او زموږ کرنه ویجاړوي. [7]

د هزاره ګانو دا غوښتنه چې کوچیان باید خپل څاروي په لاریو (لویو موټرونه) کې انتقال کړي هومره واقعي او عملي نه بریښي، ځکه چې یوازې یو څو کوچیان وسه لري چې ددې موخې لپاره لاری کرایه کړي. [8]

اوس مهال، جګړې د کوچیانود تیریدلو یو څو لاروته محدودې دي چې د هزاره جات ځرځایونو ته د لاس رسی مخنیوی کوي. د تګ دا لارې د هزاره ګانو د محلي ملیشو له خوا تر څارنې لاندې دي. دا چې د هزاره ګانو د سیاسیونو او پیاوړو کسانو له خوا د نوموړو ملیشو ملاتړ کیږي او که نه، خو که دا بندیزونه لیرې شي نو جګړې به په لوړو برخوکې خپرې شي. د بیلګې په ډول، په مالستان کې د بندیزونو څخه وروسته چا کوچیان نه دي لیدلې، خو هغوي ادعا کوي که چیرې کوچیان دې سیمې ته راشي نو د جګړې لپاره چمتووالی لري. [9]

په داسې حال کې چې ډیرکوچیان کلیو ته نږدې کرنیزو حاصلاتو او ځرځایونو ته له ویجاړې څخه انکارکوي. [10] د کوچیانو ځینی مشران په ضمني توګه د دواړو خواوو له ناوړه ګټې اخیستنې او چلند څخه د مخنیوی په موخه د دولت د مداخلې غوښتونکې دي:

۶ د کجاب په سیمه ، د بهسود د ولسوالی په دویمه حصه، د ګنداب په کلی کې له یو بزګر او د ټولنې له یوه سپین ږیري سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د فبروری میاشت.
۷ د بهسود دولسوالی د کجاب په سیمه کې د لته بند له کلی څخه د بزګرانو د ټولنې له مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال فبروری.
۸ د دایمرداد له ولسوالی د سرچشمي رسمي د کارواني کلیز د بزګرانو ټولنې له مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د فبروری د میاشتی ۱۵ مه.
۹ په مالستان کې له دري هزاره بزګرانو سره مرکه، چې ټولو ورته نظر څرګند کړ.
۱۰ په میدان وردک ولایت کې د خاروخیل قوم د کوچیانو له مشر سره مرکه، د ۲۰۱۶ کال د نومبر ۲۲ مه.

> حکومت باید هرومرو له دغو قوماندانانو او هزاره ګانو او همدا ډول له مونږ څخه وسله را ټوله کړي او کوچیانو ته اجازه ورکړي چې له غرونو څخه ګټه واخلي او کوچیانو ته ووائي چې د هزاره ګانو د حاصلاتو ځمکو ته د تاوان رسولو حق نلري، خو په خواشینۍ سره چې حکومت او هزاره ګان نه غواړي چې دا ستونزه حل شي.[۱۱]

په دولت پورې لړ ترلې، د متضادو ګټو د لیږد بله لار دا ده چې د کوچیانو د راتګ موده په داسې ډول تنظیم شي چې بزګران د هغو د خوځښت په مسیر کې د خپلو واښو او حاصلاتو ریبل، لکه چې ځینی وخت ادعا کیږي چې له جګړې څخه پخوا همداسې وه، بشپړکړي وي.

> زموږ په ولسوالۍ کې، مهال ویش داسې وو چې کوچیان د هرکال د اپریل د میاشتې په پای کې را تلل، نو کوچیان اړ وو لومړی تر هغه وخت پورې منتظر پاتې شي چې هزاره بزګران په هرې ولسوالۍ کې په اړونده غونډیو او غرونو کې د خپلو واښو ریبل پای ته ورسوي او د ژمي لپاره ئې زیرمه کړي. وروسته بیا کوچیانو کولای شو له خپلو څارویو سره سیمې ته راشي او خپل څاروي په نوموړو غرونو او غونډیو کې د څر لپاره خوشي کړي. پلان داسې وو چې کوچیان لومړی د بهسود ولسوالۍ ته را تلل او هلته د ۱۰ یا ۱۵ ورځو لپاره تم کیدل او په غرونو کې ئې خپل څاروي په پاتې شوو واښو کې تر هغه وخت پورې څرول چې د ناور د ولسوالۍ بزګرانو خپل حاصلات راټول، او د ژمي لپاره ئې واښه، زیرمه کړي وای. وروسته بیا کوچیان د ناور ولسوالۍ ته را تلل او هلته ئې په غونډیو او غرونو کې د پاته شوو واښو څخه د خپلو څارویو لپاره د ۱۰ یا ۱۵ ورځو لپاره ګټه پورته کوله، ترڅو د مالستان بزګرانو حاصلاتو او واښو ریبل بشپړکړي وای او کوچیانو ته ئې اجازه ورکوله چې خپل څاروي هلته د څر لپاره راولي.[۱۲]

حتی که د داسې مهال ویش په اړه د ټولنې په کچه هوکړه هم ترسره شي، د مهال ویش د عملي کولو لپاره د دولت ونډې ته اړتیا لیدل کیږي. نوموړی مهال ویش ته حتی له جګړې څخه پخوا هم، کله چې حکومت د اوس مهال په پرتله ډیر واک او نفوذ درلود، ډیر لږ درناوی کیده. په حقیقت کې، دا ډول مهال ویش یوازې په بالقوه توګه له جګړې څخه وروسته شرایطو کې، که چیرې د افغان دولت واک موندلای وای، د تطبیق او عملي کیدلو وړ بلل کیدای شو.

۱۱ په میدان وردک ولایت کې د خاروخیل قوم د کوچیانو له مشر سره مرکه، د ۲۰۱۲ کال د نومبر۲۲ مه.

۱۲ د مالستان د ولسوالۍ په بوخرا کلي کې له هزاره مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۱۴ مه

## د دولت «بی اغیزه» مداخله: د بنسټیزو جوړښتونو څو اړخیزې اغیزې

د یوې برخې په توګه، د کوچیانو او میشتو کسانو ترمینځ شخړې یوازې (مازې) د ملکیت او ګټې اخیستنی حقونو له پایلو څخه په لوړه توګه د مقامونو له خوا یا ډیرې کمزورې یا په هیڅ ډول نه عملي کیږي، او لکه چې ویلي په لوړو ځایونو کې د « څرګند» وضعیت په توګه تشریح کړې دي، تر بحث لاندې نیول کیږي.[۱۳] په دې توګه څرځایونو ته د کوچیانو او بزګرانو له خوا ځیني وختونه (د دولت څخه په مخالف ډول) د « خپلو» (ملکیتونو ) په توګه کتل کیږي، او داخلک په ځینو ځایونوکې د شخړو له مینځه وړلو له لارې، په یوشمیرځایونو کې په ناقانونه توګه میشت کیږي. دایوه معموله خبره ده چې په اختلاف او شخړه کې دوه اړخونه ښکیل وي چې دواړه خواوې استدلال کوي چې په قانونی توګه د ځمکې خاوندان دي. په عین حال کې د دولت د مامورینو له خوا د ځمکې د ناقانونه خرڅلاو ستونزه هم شتون لري. خو دا د پام وړ ده چې ځینې دا ډول منازعې کیدای شي، پرته له دې چې واقعي خاوند وپیژندل شي، د کلونو لپاره دوام ولري.[۱۴]

لږ ترلږه د هزاره ګانو ترمینځ، داسې وضعیت (په ځینو وختونو کې په ناڅاپې توګه) رامینځ ته شوي دي چې د طالبانو د ۲۰۰۰ کال قانون ته د بیرته ستنیدلو غوښتنه کوي چې خصوصی څرځایونو پیژني او هغه ئې تعریف کړي دي.

> د څرځایونو په هکله، زموږ خلک کوچیانوته د خپلو ځایونو له ورکولو سره موافق نه دي. هغوی وایی چې څرځایونه د دوي د کلیو حدود جوړوي او په دولت پورې اړه نه لري چې وغواړي هرچاته ئې ورکړي. د جعفري او حنفی قانون پربنسټ هرکلی خپله پوله یا حریم لري. او دا حدود یا حریم د کلي څرځایونه دي. د کلیو حدود یا حریم په کلیوالو پورې اړه لري، حکومت د نوموړو ځایونو خاوند نه دي چې د افغانستان د بلې څنډې توکمونو ته ئې ورکړي.[۱۵]

په حقیقت کې ، ان له ۲۰۰۱ کال وروسته، ټولنې (د هزاره ګانو په شمول) ځینې وختونه د طالبانو په مینځګړتوب د هوکړې لپاره تکیه کوله، که څه هم په ظاهر کې هومره ډیره بریالۍ هم نه وه:

> د ۲۰۱۵ کال د اپریل په ۱۴ مه، مصطفی د طالبانو قوماندان د هزاره ګانو او زموږ ترمینځ د یوې هوکړې په اړه خبرې اترې وکړې. خو درې میاشتې وروسته، هزارګان را غلل او زموږ په کورنیو او څارویو ئې یرغل وکړ. ان تردې چې هغوی حتی له دې هوکړې سره هم توافق نه درلود.[۱۲]

۱۳ لیزالدن ویلی « د څرځایونو پرسر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه »، Revue des Mondes musulmans et de la mediterranee: ۱۳۳, June ۲۰۱۳

۱۴ د او بازک په کلي کې دعبدالرحیم د ټولنې له مشرسره مرکه، د ۲۰۱۴ کال د دسمبر ۲۰ مه.

۱۵ د کوچیانو او هزاره ګانو ترمینځ د شخړو د حل لپاره د کمیسیون له غړي سره مرکه، د ۲۰۱۲ د دسمبر لومړی نیټه

۱۲ د کوچیانو له مشر سره مرکه، د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ، د ۲۰۱۲ کال د نومبر ۲۲ مه.

له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته افغان حکومت پخپله ځینې وختونه د خصوصي، ټولنیز او عامه څرځایونو ترمینځ توپیر ته د اهمیت په سترګونه کتل. د مثال په توګه د ۲۰۰۸ – ۲۰۰۹ کلونو د لوړو ځمکو د نوي قانون په مسوده کې، د کوچیانو لاس موندنه باید وروستني (قانون) ته محدود پاتې شي. په هر صورت، د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کال د مسودې پراساس، د ټولنې څرځایونه له (قانون) څخه وایستل شول او عامه څرځایونه، په عمل کې، باید د بزګرانو او کوچیانو له خوا په ګډه توګه اداره شوي واي. دې پرمختګ ته د کوچیانو له خوا د مقامونو د جلبولو لپاره د تبلیغاتو په سترګه وکتل شو. [17]

د څرځایونو په هکله د دولت د مدیریت او د ټولنې د مدیریت ترمینځ بحثونه، په یوې مانا ، یو غلط بحث ګڼل کیږی. [18] د افغان دولت له خوا مختلف تصویب شوي قوانین په ډیرو مواردوکې د محلي مقاماتو او ټولنو له خوا ، له جګړې څخه پخوا ، په رسمیت پیژندل شوي نه دي. دودیزو کړو وړو نه یوازې له ملي قوانینو سره توپیر درلود ، بلکې دا موضوع غیر معمولي نه بریښیده چې هغه هوکړه لیکونه او امتیازونه د محلي مقامونو له خوا ثبت شي چې په څرګند ډول له ملي قوانینو سره په تناقض کې وو. دغه جوړښتیز راز والی له ۲۰۰۱ کال وروسته لا ډیر خراب او د څرځایونو تعریف د پخوا په شان کمزوری پاتې شو. د ۱۹۲۰ او ۱۹۷۰ کلونو قوانین د څرځایونو او « عامه ملکیتونو » تعریف په روښانه توګه وړاندې کوي. د ۱۹۸۷ او ۱۹۹۰ کلونو اساسي قوانین، چې اوس لغوه شوي دي، څرځایونه یوازې د « دولت ځمکه » ګڼي. طالبانو د څرځایونو او عامه ځمکو په اړه په خپل قانون کې دوه ډوله مختلف څرځایونه منلي دي(۲۰۰۰):عامه او خصوصي ځمکې، چې وروستنی ځمکې ئې د ګاونډیو او نږدې ټولنو د ځانګړې حق په توګه پیژندلي وي. خصوصي څرځایونه د هغوی له تعریف سره سم « هغه سیمې وي چې که چیرې یو څوک د کلي په یوه څنډه کې ولاړ وای د هغه لوړ غږ په بله څنډه کې د اوریدلو وړ ګڼل کیده» [19] له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته مرکزی حکومت داسې قانون جوړکړ چې د کاغذ پرمخ د کوچیانو په ګټه وو او د هغوی لپاره د سیاسي ملاتړ په توګه ورڅخه کار اخیستل کیده. له بلې خوا نوموړي قانون کوچیانو او بزګرانو ته دا حق ورکاوه چې په څرځایونو باندې د تجاوز او په زور نیولو ، مخه ونیسي. داسې نه بریښي چې دا ډول پاینبت لرونکی بیلګه د تصادف له امله رامینځته شوي وي. [20]

حتی که چیرې حکومت د کوچیانو لپاره د میشت ځایونو د سیمو د ټاکلو لپاره لکه د ده سبز د باریک آب په سیمه کې، لاسوهنه هم وکړي، په حقیقت کې نشي کولای خپله پریکړه عملي کړي. [21] داسې مالومیږی چې په د کرنې په وزارت کې، د حکومت مامورین د ۱۹۷۱ کال د څرځایونو قانون د خپلو اجراأتو لپاره د اساس په توګه ګڼي. د یوه کار کوونکي د خبرو پراساس، « د څرځایونو د قانون پربنسټ، څرځایونه د حکومت ملکیت ګڼل کیږی او هر افغان وګړی چې پسونه ولري کولای شي له څرځایونو څخه ګټه پورته کړي» [22]

د دولت د نه اغیز منتوب بل اړخ دا دی چې کوچیانو او لیری پرتود کروندګرو ځینو ټولنو ته چې له هغو سره په شخړه کې دي، د خدمتونو په رسولو کې پاتې راغلی دي چې نور وګړي ئې ترلاسه کوي. دا هغه ستونزه ده چې کیدای شي د وګړو د نوی منشور، له جوړولو سره اړیکه ولري.

۱۷ لیز الدن ویلي، « د څرځایونو پرسر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه»، Revue des Mondes musulmans et de la Méditerranée: ۱۳۳,June ۲۰۱۳

۱۸ جې. ډیویډ سټانفیلډ او نور، « له جګړې وروسته شرایطو کې د لوړو ځمکو مدیریت: د افغانستان بیلګه،، د ځمکې د حقونو په پیژندنه، اداره او حکومتولي کې نوښتونه. کلاوس د ینینګر او نور. نړیوال بانک، ۲۰۱۰.

۱۹ کانرفولی، په افغانستان کې د ملکیت د قانون لپاره لارښود NRC/ UNHCR، ۲۰۰۵.

۲۰ لیزالدن ویلی، « د څرځایونو پرسر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la Méditerranée: ۱۳۳,June ۲۰۱۳

۲۱ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د تره خیل د قوم مشر کوچي سره مرکه، د ۲۰۱۷ د جنوری ۱۳ مه.

۲۲ د کرنې وزارت د څرځایونو څانګې له یوکار کوونکي سره مرکه.

## ښاري او کرنيزه پراختيا

د کوچيانو او بزګرانو ترمينځ شخړه نه يوازې د هزاره ګانو په کروندګرو پورې، بلکې په تاجيکانو او پښتنو باندې هم اغيزه لري. په داسې مواردوکې، د سياسي ګوندونو او سياسيونو ښکيلتوب هم شتون لري. مرکه شوو کسانو تمايل درلود چې دا ډول ښکيلتيا ، کله چې د مخالفې ټولنې په ګټه وي، په منفي توګه تشريح کړي، خو دا خبره په يو هيواد کې چې په ۲۰۰۱ کال کې د رقابتی (سيالی کوونکي) سياست په وړاندې پرانيستل شي يو طبيعی وده ګڼل کيږي. د سياسيونو او ځواکمنو واقعي ونډه چې هرڅه وي، داسې روښانه او ژورلاملونه شتون لري چې د ځرځايونو پرسر د جګړو د زياتوالي سبب ګرځي. د ښاري او نيمه ښاري ميشت ځايونو پراخوالی، په ځينو مواردوکې، د هغو ځرځايونو د ارزښت په ډيروالي باندې اغيزه کوي چې پخوا د کوچيانو له خوا ورځخه ګټه اخيستل کيدله. دا موضوع ددې لامل شوه چې محلي کليوال، له پاکستان ځخه راستنيدونکي او د قدرت د لالان هڅه وکړي د ودانيو د جوړولو په موخه يا د ځرځلاو لپاره ځرځايونه غصب او د هغو کنټرول پخپل لاس کې ونيسي. د لويو ښارونو ګاونډې سيمې لکه ده سبز په پام وړ توګه اغيزمنې شوي دي:

> په تيرو ۱۵ کلونو کې ډير بدلونونه رامينځ ته شول. د بيلګې په ډول، پخوا زموږ نفوس ډير لږ وو او ځکه چې په ولايتونو کې جګړو شتون نه درلود، نو د کوچيانو لپاره وړيا سيمې ډيرې وې تر څو خپل څاروي هلته د څرولو لپاره راولي. خو اوس نفوس خورا ډير شوی ده او له ولاياتو ځخه ډير خلک د جګړو په سبب کابل ته راغلي دي. په دې توګه پخواني ځرځايونه هم په ښارونو بدل شوي او ډيرو کسانو کورونه پکښې جوړ کړي دي، نو ځکه کوچيان هڅه کوي د خپل ژوند لپاره نوي ځايونه پيدا کړي، ځکه چې هغوی د ځمکې په ارزښت پوهيږي. همدا موضوع ددې لامل برابرکړې ده چې د کوچيانو او بزګرانو او اوسيدونکو ترمنځ په ټولو ځايونو کې اړيکې لا ډيرې خرې شي. [23]

د کابل په ولايت کې د خاک جبار وضعيت هم، همدا ډول دی:

> په تيرو ۱۵ کلونو کې زموږ په کلي کې ډير بدلونونه رامينځ ته شوي دي. بيا بيا رغونه ترسره شوي ده، زموږ نفوس ډير شوی ده او د کابل د ښار او زموږ د کلي ترمينځ د سړک له لاري اړيکې ډيرې شوي دي. په دې توګه دغو بدلونونو له کوچيانو سره زموږ په اړيکو باندې اغيزه کړې ده. په پخوا وختونو کې موږ د چار بازګی له دښتې ځخه ګټه نه اخيستله، خو اوس اړ يو چې له هغه ځخه ګټه واخلو، په دې توګه د کوچيانو او زموږ د ټولنې ترمينځ د شخړو لامل همدا موضوع ده. [24]

د وګړو وده او ډيرو زيرمو ته لاس موندنه چې له وچو ځمکو ځخه د حاصلاتو د لاس ته را وړلو لامل برابروي، کليوالي ټولنې وهڅولي چې ځرځايونو ته د کوچيانو له راتګ ځخه مخنيوی وکړي، ځکه چې هغوی غوښتل په نوموړوځايونو کې نوي کورونه ودان او د اوبو پمپونه نصب کړي:

> موږ کوچيانوته اجازه نه ورکوو چې ځرځايونو ته راشي او خپل څاروي وڅروي يا کورونه ودان کړي، ځکه چې موږ غواړو نوموړي ځايونه د کرنې لپاره چمتو کړو. موږ غواړو په دې دښتو کې د اوبو پمپونه نصب کړو او په دې ځای کې کرنې ته وده ورکړو، ځکه چې زموږ خلک ورځ په ورځ ډيريږي. موږ په عين حال کې غواړو په دې سيمه کې کورونه ودان کړو. [...] اړينه نه ده چې دغه سيمې د تل لپاره په کوچيانو پورې اړه ولري او له هغو ځخه د ځرځايونو او کورونو د جوړولو لپاره ګټه پورته کړي. [25]

دا موضوع د زيرمو د کمولو لپاره يو ډول شخړه شميرل کيږي چې د ډيريدونکو وګړو ترمينځ وويشل شي، او له هغه ځخه ډېره کول به هم ستونزمن کار وي، حتی که چيرې ټولنې پخپل مينځ کې له ځرځايونو ځخه د ګټې اخيستلو پوره واک هم ولري.

---

23 د کابل ولايت په ده سبزکې له يوه مشر او بزګر سره مرکه، ۲۰۱۷ کال د جنوری لومړۍ نيټه.

24 د ملنګ په کلي کې له يوه مشر او بزګر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د فبروری ۲۸ مه.

25 له کوچي مشر سره د عبدالرحيمزيو په ټولنه کې، د او بازک په کلي کې مرکه، د ۲۰۱۲ د دسمبر ۲۰ مه.

# د کوچیانو د میشتیدلو چټکتیا

د افغانستان حکومت د کوچیاني ژوند په اړه د دوو مهمو کړنو (تګلارو) ترمینځ مخ او شاته خوځیږي. د نن ورځې د اصولو پلویان تمایل لري چې د کوچیتوب ژوند غیرمدني وګڼي او استدلال کوي چې د کوچیانو میشتیدل د ستونزې یوازنی اوږد مهاله د حل لاره ده. [26] میشتیدل به په عین حال کې پر وګړو باندې د حکومت له خوا د ډیرکنټرول (څار) په مانا وي چې د قاچاق د کمولو او د مالیاتو د ډیروالي لامل ګرځي. په هرصورت، نورکسان بیا کوچیانو، او په تیره بیا پښتنو کوچیانو ته د وتلو حاکمانو د ګټورو ملاتړو په سترګه ګوري چې ولایاتو ته د کمزوري مرکزي حکومت د قدرت د پراختیا په لټه کې دي. څکه چې افغان حکومت، د نیمي پیړۍ په بهیرکې، په محلي وګړو باندې مالیات نه دي لوړ کړي، نو د کوچیانو له خوا له مالیې څخه د تښتیدلو په وړتیا باورکول په بشپړه توګه بیځایه تشویش ګڼل کیږي.

د افغان سیاسیونو او رهبرانو غوښتنو ته په نه کتلو سره، د کوچیانو د میشت کیدلو یو بهیر د ټولنیزو، اقتصادي، چاپیریالي او د نفوس د بدلون له کبله، روان دي. په حقیقت کې، میشتیدل او کوچیتوب په افغانستان کې د پیړیو په بهیرکې د یو شمیر عواملو پربنسټ صورت مومي. له ۲۰۰۱ کال څخه را وروسته، د کوچیتوب د بیلګو په اړه کوم ریپوټ شتون نه لري، خو میشتیدل په یقین سره په لوړه کچه ترسره شوی دی. د یوې برخې په توګه، کیدای شي چې دا موضوع د اقتصادي، سیاسي او چاپیریال د شرایطو پایله وګڼل شي. د نفوس پیژندنې وده، د څرځایونو کمیدل او هغو ته محدوده لا سرسي، پرته له شک څخه خورا مهم عوامل شمیرل کیږي. ډیرې سیمې وروسته له هغه چې مکانیزه زراعت په پراختیا پیل وکړ ترکرنې لاندې راغلي، او په پایله کې د کوکنارو کښت او ښارونو پراختیا وموندله. په عمل کې، د افغانستان دولت د کلیوالي نفوس د بیوزلو برخو په لګښت د نخبګانو له خوا د شتمنۍ د چټک او بیرحمانه را ټولول ومنل او هغه ئې تأئید کړل. دا بهیر د کلیوالو د ډیرو غریبو خلکو په مصرف چې په هغو کې کوچیان هم شامل وو، ترسره شو. [27] په حقیقت کې داسې مالومیږي چې میشت شوي کوچیان د نورو کوچیانو په پرتله ډیر بیوزله شول او په ورځنیو کارګرانو بدل شول. د میشت شوو کوچیانو لپاره د نورو کوچیانو په پرتله نه شوني بریښي چې په سوداګرو بدلون ومومي. [28]

په هرحال، د میشت کیدلو په لور د کوچیانو په شړلو کې د دغو عواملو د اغیزې په اړه باید لوړ اټکلو نه ترسره نه شي. په ځینو مواردو کې، د کوچیانو له خوا د نوو مهارتونو زده کړه او زده کول او د نوو فرصتونو پیژندل او دهغو بیځایه کیدل د اوږدو کلونو د جګړو پایله ګڼل کیږي.

نومړي کوچیان چې په ښارونو کې میشت شوي دي، موږ ته وائي چې له کوچیاني ژوند څخه لاس واخلئ او ښارونو ته راشي. څکه چې په کوچیاني ژوند کې ډیرې ستونزې شتون لري. [29]

ځینې کوچیان بریالي شوي دي چې د لید وړ پانګه راټوله کړي، چې هغه ئې په شتمنیو او کسب او کار بدله کړې ده. په نورو مواردو کې د عربو خلیج ته مهاجرت وو چې ځینو ته ئې دا امکان برابر کړ چې پیسې پیدا کړي او لږ ترلږه د هغو یوه برخه بیرته په افغانستان کې پانګونه وکړي. [30] د سمویل هال له خوا د کابل په سیمه کې د کوچیانو ترمینځ یوه سروې څرګندوي چې د مرکه شوو ۴۵ سلنې څرګنده کړه چې له کوچیاني ژوند څخه په تنګ شوي دي او غواړي چې میشت شي، او دا د خطرونو ترڅنګ (چې په هیواد کې له جګړه ایز وضعیت څخه رامینځ ته شوي دي) د اقتصادي لاملونه له کبله هم ګڼل کیږي. څرځایونوته د لاس رسی ستونزه د ۲۲،۹ سلنې مرکه شوو کسانو له خوا یاده شوه. [31] لکه چې یو مرکه شوی شخص وایي:

> هغوي کوچیاني ژوند پریښود او لوګر، ننګرهار، بلخ، کندهار او نورو ولایتونو ته ئې خپله شتمني انتقال کړه. تاسو ته مې څرګنده کړه چې کوچیاني ژوند د کوچیانو ژوند ستونزمن کړي دي او ډیرې ستونزې لري، نو هغوي ښاري ژوند ته لیوالتیا ښیي. که چیری حکومت هغوي ته آسانتیاوي برابري کړي، او د بیلګې په توګه هغوي ته ملکیت او ځمکې ورکړي ترڅو هغوي ځانونو ته کورونه ودان کړي، او هغوي ته د استخدام زمینه برابره کړي، او داسې نور. [32]

د سمویل هال څیړنې څرګنده کړه چې له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته د کابل ولایت په کوچیانو کې د میشتیدلو بهیر په دراماتیک ډول چټک شو. د هغو کسانو له جملې څخه چې مرکې ورسره شوي دي، یوازې۰،۷ سلنه په ۱۹۷۱ – ۱۹۸۱ کلونو کې او مازې ۲،۱ سلنه په ۱۹۸۱- ۱۹۹۰ کلونو کې میشت شوي دي. په ۱۹۹۰ کلونو کې لومړنۍ جدي چټکتیا صورت وموند: په دې لسیزه کې ۱۱،۴ سلنه کوچیان میشت شول. په هرحال، واقعي چټکتیا له ۲۰۰۱ کال څخه را وروسته رامینځ ته شوه: په ۲۰۰۱- ۲۰۰۶ کلونو کې ۴۴،۳ سلنه او په ۲۰۰۷- ۲۰۱۱ کلونو کې ۴۱،۴ سلنه میشت شول. [33] د ۲۰۰۵ کال سروې وښودله چې ۱۵ سلنه کوچیان د تل لپاره میشت ژوند غوره کړ. [34] د AREU د پروژې اوسني مرکه کوونکي څرګندوي چې د میشتیدلو خواته لیوالتیا مخ په زیاتیدلو ده(لومړی جدول وګورئ).

26 هرمان کرو تزمن او ستیفن سچاتي، « د افغانستان په شمال ختیزکې د شپنو لپاره څو اړخیزه بې امنیتي» ارکندي، ۲۵ ټوک. دوهمه شمیره، ۹۹- ۱۱۹، ۲۰۱۱.

27 لیز الدن ویلي، « د څرځایونو پرسرجګړه: په افغانستان کې پټه جګړه»، Revue des Mondes musulmans et de la Méditerranée، ۱۳۳،June ۲۰۱۳

28 « د کابل د نوي ښار په سیمه کې د کوچي وګړو په هکله یوه څیړنه » کابل: سمویل هال، ۲۰۱۲، ۱.۳جدول.

29 د بابکرخیلو د قوم له یوه سپین ږیري کوچي سره مرکه، د کابل ولایت د ده سبزولسوالی، د ۲۰۱۷ کال د جنوری ۲۸ مه

30 د خوست ولایت په درای کې، د نیازي قوم له کوچي مشر سره مرکه، ۲۰۱۷ کال، د اپریل ۸ مه.

31 « د کابل د نوي ښار په سیمه کې د کوچي وګړو په اړه یوه څیړنه»، کابل: سامویل هال، ۲۰۱۲، ۱.۳ جدول.

32 د میدان وردک په ولایت کې د کروخیل د ټبر له یو مشر کوچي سره مرکه، ۲۰۱۶ کال، د نومبر ۲۲ مه.

33 «د کابل د نوی ښار په سیمه کې د کوچیانو په اړه یوه څیړنه»، کابل: سامویل هال، ۲۰۱۲، ۱.۳ جدول.

34 فرا وکی دی ویجر، « د کوچیانو په هکله څو اړخیزه ملي ارزونه»، د ۲۰۰۵ کال د مې میاشت.

لومړی جدول: د قومي مشرانو د مالوماتو پربنسټ، د قوم پراساس د کوچیانو میشتیدل.[۳۵]

| ټبر | تر ۲۰۱۷ کال پورې د میشتوکسانو اټکل شوې سلنه |
|---|---|
| ناصر | ۳۰ |
| کروخیل | ۵۵ |
| احمدزي | ۳۰ |
| سلیمان خیل | ۴۵ |
| ملاخیل | ۵-۲۰ |
| نیازي | ۲۵-۷۰ |
| سلطان خیل | ۸۰ |
| بابر | ۵۵ |
| اکبرخیل | ۲۰-۲۵ |
| موسی خیل | ۲۰ |
| تغر | ۴۰ |
| بابکر (خیل) | ۴۰ |
| تره خیل | ۸۰ |

۳۵ د ناصر د قوم له کوچي مشر سره، د میدان وردک ولایت د جلریز او بهسود د ولسوالیو ترمینځ د سرچشمې په سیمه کې مرکه، د ۲۰۱۲ د نومبر ۲۲مه ؛ دمیدان وردک ولایت، د خاروخیل قوم کوچي مشر سره مرکه، د ۲۰۱۲ د نومبر۲۲ مه؛ د میدان وردک ولایت په بهسود اول کې له کوچي مشر سره مرکه، ۲۰۱۲ کال، د نومبر ۱۹ مه؛ د سلیمانخیل قوم له کوچې مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۲۷ مه ؛ د ملاخیل قوم له کوچي مشر سره مرکه، د خوست ولایت درای، د ۲۰۱۷ د اپریل ۷ مه ؛ د لوګر په ولایت کې د سلطان خیل قوم له کوچي مشر سره مرکه، د ۲۰۱۲ د نومبر ۲۳مه ؛ د ازری ولسوالی، د لوګرولایت، د بابر د قوم له کوچي مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ د جنوری ۲۸ مه ؛ د اکبر خیل د قوم له کوچی مشر سره مرکه، ۲۰۱۷ د مارچ ۲۰ مه ؛ کابل، د بتخاک د کوچي آباد له کوچي مشر سره مرکه، ۲۰۱۷ د مارچ ۹ مه ؛ د تغر قوم له کوچي مشر سره د کابل ولایت د ده سبز په ولسوالی کې مرکه، ۲۰۱۷ د جنوری ۱۸ مه ؛ د کابل د ولایت په ده سبزکې د بابکر خیل قوم له کوچي مشر سره مرکه، ۲۰۱۷ د جنوری ۲۸ مه ؛ د کابل ولایت د ده سبز په ولسوالی کې د تره خیلو د قوم له کوچي مشر سره مرکه، ۲۰۱۷ د جنوری ۱۳ مه.

## د کوچیانو میشتیدل: د شخړو نوي سرچینه

دکوچیانو میشتیدل کیدای شي د شخړو د یوې سرچینې خاتمه وي، خو په عین حال کې د نویو شخړو پیل ګڼل کیږي ځکه چې کوچیان باید په بل ځای کې میشت شي. د حکومت له خوا په ځانګړو سیمو کې د کوچیانو د میشتیدلو د پروګرام نه شتون د دې لامل کیږي چې هغوي یا په ښارونو کې ځای پرځای شي یا په هر ځای کې چې د ځمکې یوه ټوټه ومومي هغه غصب کړي. ډیر لږ کوچیان د ځمکې د اخیستلو لپاره پیسې لري، نوځکه هغوي یوازې یو انتخاب لري چې ځرځایونه تر ولکې لاندې راولي. مرکه شوي کوچیان او بزګران ددې کار واقع کیدل تآئیدوي، د بیلګې په توګه:

> پخوا کوچیانو، کوچیانی ژوند درلود او له یوه ځای څخه ئې بل ځای ته کډه کوله. خو اوس ئې دا ډول ژوند ته توقف ورکړې دی. هغوی د افغانستان ټولې ځمکې که په شمال، سویل، ختیز یا لویدیز کې دې تر خپلې ولکې لاندې راولي. اوس هغوی غواړي چې میشت شي. هغوي ځمکې ته اړتیا لري نو ځکه د ځمکې د اشغال لپاره چمتو دي.[۳۶]

> پخوا موږ شمالي ولایاتو ته تللو، خو اوس نوموړو سیمو او ځرځایونو ته، چیرې چې موږ خپل کورونه ودان کړي دي، زموږ له تګ څخه مخنیوی کیږي. داخلک موږ ته اجازه نه راکوي. هغوی نوموړو سیموته بولدوزرونه راوستل او زموږ کورونه ئې ویجاړ کړل. په یوه کورکې دوه کوچنیان هم ووژل شول. د تاجیکانو او زموږ د تره خیلو ترمینځ ډیرې جګړې وشوې.[۳۷]

له ځرځایونو څخه د ګټې اخیستلو د سیالۍ په پایله کې، هغه ټولنې چې پخوائې هیڅکله ځرځایونو ته د کوچیانو په راتګ اعتراض نه درلود، د هغوي پرضد ودریدل:

> پخوا کوچیان د لنډ وخت لپاره راتلل او وروسته بیرته تلل. هغوی نه غوښتل چې زموږ ځمکې لاندې کړي. پخوا زموږ ترمینځ جګړو شتون نه درلود. خو اوس کوچیان دلته راځي او زموږ ځمکې غصبوي. هغوی زموږ په ځمکو کې کورونه جوړوي.[۳۸]

کوچیان ځانونه له تبعیض سره مخامخ ګڼي، ځکه چې کوچیانۍ ژوند ستونزمن کیږي او هغوي په آسانتیا سره د میشتیدوځای نشي پیدا کولای، نو ځکه په ښارونو کې د ارزانه کار په توګه ورڅخه ګټه پورته کیږي:

> موږ غواړو په ده یحیا، باریک آب، بختیاران، قادرخیلو، بندیخاني، قلعه زرین، بابا خوشرا او عزیز هوتک کې کورونه جوړکړو. هوکې، په ځینو ځایونو کې ستونزې شته، خو په نورو سیمو کې ستونزې شتون نه

۳۶ د ملنګ په کلي کې له یوه زاړه بزګر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د فبروری ۲۸ مه.
۳۷ د کابل د ولایت د ده سبز په ولسوالۍ کې د تره خیلو د قوم له یوه سپین ږیرې کوچې سره مرکه، ۲۰۱۷ د جنورې ۱۳ مه.
۳۸ د کابل ولایت، د ده سبز ولسوالۍ، د پای منار کلي، له یوه زاړه بزګر سره مرکه، ۲۰۱۷ د جنوری ۴ مه.

> لري. ځینې خلک سوچ کوي چې « کوچیان د افغانستان دي، هغوي پرېږدئ» خو ځینې نور بیا وائي « هغوي حق نه لري چې دلته ژوند وکړي، هغوي باید هرو مرو په غرونو کې ژوند وکړي» [۳۹]

د « کروند ګرو د ځان غوښتنې» ښه بیلګه د لوګر په ازره کې لیدل کیږي. په دې سیمه کې د ځرځایونو پرسر د پخوانیو کوچیانو قومونو، چې څو کلونه وړاندی میشت شوي او ډیرې ښې ځمکې ئې پخپل مینځ کې ویشلي دي، او هغو کوچیانو ترمینځ چې اوس میشت شوي او د ځمکو غوښتونکي دي، سیالی شتون لري:

> دا ځمکې له ۲۰۰۰ هکتارو څخه ډیرې دې او ټول کلي او قومونه لکه عیسی خیل، عبدالرحیمزي، افضل خیل او ستانکزي په هغو کې شریک دي. نوموړي ټول ټبرونه په دې ځمکو کې حق لري. ځکه چې دا ځرځایونه د کوچیانو دي، موږ هم پخوا کوچیان وو او خپل ځاروي مو دلته راوستلي دي، خو اوس مو له کوچیاني ژوند څخه لاس اخیستی ده. [۴۰]

په داسې کلیوالي سیمو کې د پولیسو د څار بشپړ نشتوالی د باالنسبه کوچنیو پیښو لامل ګرځي او په چټکۍ سره تاوتریخوالی رامینځ ته کوي. یوه مرکه شوي سړي څرګنده کړه چې په ۲۰۰۳ کال کې کوچیانو د یوه محلي ځمکه لرونکي زوي، چې د کوچیانو له خوا ئې دهغه په ځمکه کې د غنمو د کرلو له کبله شکایت کاوه، وواژه. کوچیانو ادعا کوله چې نوموړې ځمکه د دوي ده، چې په پخوا کې ئې رانیولې ده. وروسته بیا نوموړي ډګروال د کوچیانو په میشت ځای باندې برید وکړ او د هغو اوه کسان ئې ووژل. دغه خونړۍ شخړه چې په دې توګه پیل شوه لا تراوسه روانه ده او د دواړو ټولنو د مشرانو هڅې له مقاومت سره مخامخ دي. که څه هم مشرانو هوکړه کړې ده چې کوچیان باید نوموړي اشغال شوي ځمکه پریږدي. [۴۱] کله چې محلي کلیوالو نه یوازې نیازي کوچیان بلکې ټول کوچیان تر یرغل لاندې ونیول، نو شخړې پراخې شوي.[۴۲]

په ډیرو سیمو کې د پولیسانو د څار او عدالت او د خدماتو د رسولو نه شتون څرګندوي چې د افغاني ټولنې پراخه برخه لا تراوسه د دولت له واک څخه وتلي ده. مالومیږی چې دا هغه سمي دي چې د اتباعو نوی منشور باید هغو ته پاملرنه وکړي، که څه هم په ډیرو مواردو کې دا هغه لیري پرتې سیمې دي چې دولت تل د هغو واک پخپل لاس کې ګڼي.

## د کوچیانو په مینځ کې ټولنیز توپیرونه

ددې پروژې بله لومړنۍ موندنه دا واقعیت دی چې د کوچیانو تر مینځ وده کوونکی ټولنیز توپیر او د ځواکمنو کوچیانو را مینځ ته کیدل د شخړو په ډیریدلو کې مهمه ونډه لري. دې خبرې ته په پخوانیو څیړنو کې هم اشاره شوې ده. له شک څخه پرته، له ۱۹۵۰ کلونو څخه راهیسې دې کوچیانو په مینځ کې طبقاتي جوړښتونه روان دي، خو دا بهیر له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته ډیر چټک شوی ده.په میشتو او خوځیدونکو ټولنو کې د ونډو ډیر « شتمن » خاوندان هڅه کوي د هغو ځرځایونو مالکیت، لاس موندنه او کنترول پخپل لاس کې ولري چې لا تراوسه ئې پخپله لیدلي هم نه دي. هغوي ددې کار پرځای، ګومارل شوي شپانه دغو لیرې پرتو سیمو ته لیږي، او ان تر دې چې په لاریو موټرونو کې خپل ځاروي په پسرلي او دوبي کې لوړو سیمو ته لیږدوي. [...] کوچي رهبران په عین حال کې په کرنیزو ځمکو کې پانګونه کوي، او نوموړې ځمکې د ګټې لپاره په نورو کوچیانو باندې خرڅوي.[۴۳] د ۱۹۹۰ لسیزې له پیل څخه، د کوچیانو مشرانو (رهبرانو) دا وړتیا پیدا کړه چې د خپلو کورنیو او یا ملاتړو په کټه په دولتي ځمکو کې اغیزه (نفوذ) ولري. هغو کوچنیو کورنیو چې خپل ځاروي ئې له لاسه ورکړي وو او د میشت ځای د موندلو لپاره لا لهانده ګرځیدل په نوموړو مشرانو (رهبرانو) او د هغوی له خوا د حل لارو په وړاندیز او سیاسي ملاتړ پورې ډیر وتړل شول. دا ډول ملاتړ او تړلتوب د عادي کوچې لپاره ضروري بریښي، ځکه چې کوچي رهبران دغه ځمکې په ناقانونه توګه لاس ته راوړې او عادي کوچیان د کوچي رهبرانو له ملاتړ پرته نوموړې ځمکه په آسانتیا سره له لاسه ورکوي. [۴۴]

> زموږ شخړې په خلیل آباد کې پیل شوې ځکه چې د ستانکزي ټبر په خلیل آباد کې زموږ ځرځایونه ونیول. پخوا دا ډول جګړو شتون نه درلود ځکه چې د ځمکو ارزښت هومره لوړ نه وو، خو اوس کله چې د ځمکو قیمت لوړ شو نو ځواکمنو خلکو ټوله سیمه غصب کړه او زموږ په ځرځایونو باندې ئې هم برید وکړ. بل لامل د وګړو (نفوس) د شمیر ډیروالی ده ځکه چې ډیرخلک له پاکستان څخه بیرته راوګرځیدل. دغه کسان [ نومونه ئې پټ دي] چې د پارلمان غړي دي او [ نومونه ئې پټ دي] هرې کورنۍ ته د پیسو په بدل کې ځمکه ورکوي. [۴۵]

له کوچیانو څخه یو شکایت کله کله اوریدل کیږي چې هغه کوچیان چې میشت شوي دي د قوم په فعالیتونو کې ډیره برخه نه اخلي، او د ستونزو په وخت کې له ټبر او قوم څخه ملاتړ نه کوي. په حقیقت کې، ډیر میشت شوي کوچیان له خپل ټبر سره د قومي شورا ګانو له لارې چې له قوم څخه ونډه ټولوي، ملاتړ کوي. دا موضوع د ځمکې او ځرځایونو پرسر د جګړو په بهیر کې هم عملي کیږي؛ د میشتو کوچیانو په مرسته، قوم کولای شي وسلې او مهمات او نور تجهیزات را ونیسي اود بیلګې په توګه، هغه د بزګرانو (کروندګرو) په مقابل کې وکاروي. [۴۶] هغه څه چې په دې مرحله کې روښانه نه دي داده چې آیا قومي (ټبریز) اړیکې اوس هم د پخوانیو ټبرونو

---

۳۹ د کابل د ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د تره خیلو د ټبر له یو مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ د جنوری د میاشتي ۱۳ مه.
۴۰ د پل کندهاري په کلي کې د عیسی خیلو د ټولنې کوچي میشت مشر سره مرکه، ۲۰۱۲ د دسمبر ۲۰ مه.
۴۱ د خوست ولایت د درای د شمل په سیمه کې د پرای د قوم له یوه مشر سره مرکه، ۲۰۱۷ د اپریل ۱۰ مه ؛ د خوست ولایت د درای په سیمه کې د مرک خیل د قوم له مشر سره مرکه، ۲۰۱۷ د اپریل ۷ مه ؛ د خوست ولایت په درای کې د ترون د قوم له مشر سره مرکه، ۲۰۱۷، د اپریل ۲مه.
۴۲

---

۴۳ لیزالدن ویلی « ځرځایونو پرسر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه»،
۴۴ فبریزیو فو سچینی، « د افغان کوچیانو ټولنیزې اندیښني» برلین:AAN، ۲۰۱۳.
۴۵ د لوګر ولایت د خلیل آباد په سیمه کې د نعیم خیلو د ټولنې له یوه کوچې مشر سره مرکه، د ۲۰۱۲ کال د نومبر ۲۴ مه.
۴۶ د اکبر خیل د قوم له یوه کوچې مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۲۰ مه.

د یووالي د مکانیزمونو په توګه کارول کیږي یا دا چې یووالی د نوو شبکو له لارې تأمینیږي. دا هغه موضوع ده چې د پروژې په راتلونکي ساحوي کار کې به ورته پاملرنه وشي.

ډیری وختونه په مرکو کې، دځواکمنو کوچیانو ونډه له لیرې څخه د لیدلو وړده. د بیلګې په توګه، د خوست په درای کې، نیازي او مرک – خیل کوچیانو ځینې څرځایونه را ونیول او هغه ئې د محلي پشتنو کلیو ته نږدې، په کرنیزو ځمکو واړول. کوچیان ادعا کوي چې د کلیو اوسیدونکو په دې اړه چې موږ هغه څرځایونه چې د پیسو په بدل کې رانیولي دي د کرنیزو موخو لپاره ورڅخه ګټه پورته کوو، اعتراض وکړ، په داسې حال کې چې کلیوال ادعا کوي چې کوچیانو د هغوي ځمکې ویجاړې کړي دي، او په هغو کې ئې د کرنیزو حاصلاتو او د کورونو د ودانولو لپاره ګټه پورته کړې ده. دا خبره څرګنده نه ده چې کوچیانو څنګه دغه څرځایونه په قانوني توګه رانیولي دي، ځکه چې څرځایونه د خرڅلاو لپاره نه دي او عامه شتمنۍ شمیرل کیږي. [47]

## د شخړو حل

چیرې چې شخړې د کوچیانو او بزګرانو ترمینځ له محلي اختلافونو څخه رامینځ ته کیږي او د قوانینو او سرحدونه له لارې ئې حل ستونزمن وي، نو کیدای شي محلي حل ولټول شي او ستونزې حل شي. په حقیقت کې، مرکه شوو کسانو څو بیلګې یادې کړې چې د ټولنو د منځګړتوب له لارې حل شوي او شخړو پای ومونده.

چیرې چې د کوچیانو- کروند ګرو ترمینځ شخړې د نفوس له ودې یا د چاپیریال له خرابوالي څخه رامینځ ته کیږي، د محلي حل لارو موندل خورا ډیر ستونزمن کار ده. د موضوع پیچلتوب په دې حقیقت کې څرګندیږي چې په داسې شخړوکې دواړه اړخونه هڅه کوي یوبل په دې خبره تورن کړي چې د داسې «مافیا» ملاتړ ورسره دی چې د حکومت په شا او خوا کې شتون لري. د بیلګې په ډول، په درای کې کوچیانو خپل مخالفین تورن کړل چې د مقاماتو له خوا ئې ملاتړ کیږي:

> موږ هڅه کوو چې نورې ستونزې هم حل کړو، خو په خوست کې د ډګروال کورنۍ شتون لري. هغوي په حکومت کې د قدرت خاوندان دي او نه غواړي چې ستونزې حل شي. [...] دغه د قدرت خاوندان جنایتونه کوي او حکومت د هغوي ملاتړی ده. [...] د جګړو حل نوموړي ډلې او مافیا له مینځه وړي. که چیری موږ ستونزې د قومي شورا له لاری حل کړو، دغه ځواکمن خلک بیا ځمکې لاندې کوي ځکه چې د حکومت مامورین د هغوی پلویان دي. [48]

کلیوال پوره ورته تومتونه په کوچیانو لګوي:

> نه یوازې کوچیان، بلکې په هرولایت کې ځواکمن اشخاص ځمکې لاندې کوي. [...] دا کسان د مافیا په ډله کې دي. لکه چې د نیازیانو ترشا چې [نوم پټ ده] ولاړ ده او هغوی ته وائې چې هغه ئې ملاتړ کوي. [49]

د قدرت د دلالانو (زورواکانو) او ګوندونو د ښکیلتیا تورونه هومره پراخ دي چې څوک نشي کولای د اریا نتیا مخه ونیسي چې آیا دا موضوع د یوه نه شوني حالت، په تیره بیا د نفوس (وګړو) د چټکې ودې او منفی اقتصادي رشد د توجیه لپاره کومه قرباني ده که څنګه. په عین وخت کې دا موضوع روښانه ده چې د قدرت دلالان او سیاسي ډلې په یو شمیر شخړو او جګړو کې خپله ونډه لوبوي. په راتلونکې څیړنه کې به د څیړنې ډله هڅه وکړي مسئلې ته ځیرشي چې آیا دا هغه ځای ده چې د جګړې کمول به کاروکړي که څنګه.

---

47 د خوست په ولایت کې د درای د شمل په سیمه کې د پرای د قوم له مشر سره مرکه، ۲۰۱۷، د اپریل ۱۰ مه؛ د خوست ولایت په درای کې د ملک خیل قوم له مشرسره مرکه، د خوست ولایت په درای کې د ترون قوم د مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۶مه،

48 د خوست ولایت په درای کې د مرک- خیل قوم کوچې مشر، د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۷ مه.

49 د خوست ولایت په درای کې د متونوال کروندګر مشرسره مرکه، ۲۰۱۷ کال د اپریل ۸ مه.

# پايله

اوسنۍ (روانه) پروژه د نورو څيړونکو پخوانۍ موندنې په پراخه توګه تائيد وي چې په افغانستان کې ئې د کوچيانو – کروندګرو اړيکو ته ژوره کتنه کړي ده. دا پروژه د دغو موندنو ځينې برخو ته غښتلتيا ورکوي. په ځانګړي توګه د څيړنې ډلې لاندې موندنې ترلاسه کړي دي:

- د کوچيانو د ميشتيدو د بهير چټک کول؛
- د شخړو د سرچينې په توګه د ميشتيدلو ډيريدونکی اهميت؛
- د شخړو او ميشتيدلو په زياتوالي کې د کوچي زورواکانو څرګنده ونډه ؛
- د کوچيانو ترمينځ د ټولنيزو اړيکو خصلت (ماهيت) په چټکۍ سره بدلون مومي.

ځينې موندنې نوي نه دي، خو د هغو تمايلاتو د تأئيد لپاره چې د نورو څيړنيزو پروژو له خوا پيژندل شوي دي د پام وړ تأئيد ګڼل کيږي:

- افغان دولت د روانو شخړو د يوه نندارچي په توګه خپلی ونډې ته دوام ورکوي او د هغو د حل لپاره کوم فعال رول نه لوبوي؛
- تر هغه ځايه چې د شخړو په حل پورې اړه لري، د ټولنې له مشر تابه څخه د دريمګړو منځګړيتوب خورا ډير اهميت لري؛
- له پاکستان څخه د سلهاوو زرو را ستنيدونکو له امله، د نفوس فشار د پخوا په شان لوړ بريښي؛
- د ځرځايونو پرسر شخړې لوړو ځايونو ته د لاس موندنې د لارو د بندولو له امله رامينځ ته کيږي، او ددې لامل ګرځي چې جګړې او شخړې په نومورو ځايونو کې لا ډيرې شي؛
- جوړښتيز راز رازوالی (تعدد ) د شخړو حل لا ډير ستونزمن کوي، خو د هغو کسانو لپاره چې د دولت په لوړو کچو کې له سياسي ملاتړ څخه خوند اخلی، ښه امکانات برابروي.

دا پروژه به اوسمهال د ځانګړو موندنو په پيژندلو (تشخيص) کې چې لا ډيره څيړنه غواړي، بدلون راولي، او موږ ته به دا امکان برابر کړي چې د پاليسيو د سپارښتنو په جوړولو کې اوچت ګامونه پورته کړو. د پاليسيو د سپارښتنې ساحې دادي:

- د ميشتيدلو او شخړو په ګړنديتوب کې د کوچيانو د زورورو کسانو ونډه؛
- د هغو بهيرونو د تراکم ماهيت پيژندل چې د پياوړو اشخاصو د را څرګنديدلو لا ملونه برابروي، او دا چې څنګه کيدای شي له هغو څخه په لا پراخه توګه د کليوالو خلکو په ګټه، استفاده وشي.
- ښاري او کرنيزو ځمکوته د ځرځايونو د ځينو برخو د بدلون په هکله د ټاکلو واک؛
- د شخړو د حل لپاره د امکاناتو غوره کول.

دغه څېړنه د اروپايي ټولنې په مالی همکاری تر شره شوي، د دې سند محتويات د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې يوازينۍ مسؤليت او په هيڅ حالت کې، د اروپايي ټولنې د موقف د عکاس په توګه نه ګڼل کيږي.

ISBN 978-9936-628-84-7

9 789936 628847

(ISBN) ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٢٨-۸۴-۷

د خپروني کوډ ۱۷۱۴P

ژباړه محمد کاظم ملوان

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې د څېړنې خپلواکه اداره ده. د AREU ماموريت ( موخه) داده چې د لوړکيفيت، او په پاليسي پوري تړلو څېړنو په تر سره کولو سره په پاليسيو او عملي ( اقداماتو ) باندې اغيزه وکړي او پايلي ئې په فعاله توګه خپرې کړي، او په دې توګه د څېړنې اوزده کړې کلتور ته وده ورکړي. دې موخې ته د رسيدلو لپاره AREU له پاليسي جوړونکو ، مدني ټولنو ، څېړونکو او زده کوونکو سره اړيکي ټينګوي ترڅو د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری (AREU) له څېړنو او کتابتون څخه ګټه واخلي او د شننې، غبرګون او بحث لپاره ښه فرصتونه برابر شي.

AREU په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د مرسته کوونکو ټولنو له خوا تأسيس شوه. دا اداره يو مديره هيآت لري چې په هغه کې د مرستندويو موسسو ، د ملګرو ملتونو ، نورو څو اړخيزو ، او غير دولتي ادارو استازي شتون ( غړيتوب ) لري.

په ۲۰۱۷ کال کې ځانګړې پروژې د اروپا د اتحاديې (EU)، د متحده ايالاتو د سولې د اداري (USIP)، د اقتصادي همکاريو او پراختيا لپاره د جرمني فدرال وزارت (BMZ)، د نړيوالې همکارۍ لپاره د آلمان ټولنه (GIZ)،د ناروې د نړيوالو چارو انسټيټيوټ (NUPL) او د متحده ايالاتو پرمختيايي ادارې له خوا تمويليږي.